مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۴۰۰ د غويي شپږمه | د ۲۰۲۱ د اپریل ۲۶مه | ۷۱۳مه گڼه

# له نړیوالو غبرگونونو سره هممهاله؛

## سکاټ میلر: ځواکونه مو وځي، تاوتریخوالي ته د طالبانو ورگرځېدل به تېروتنه وي



۳

د کرونا نوي څپه او افغانستان ته ور پېښ گواښ
۲ مخ

افغانستان؛ ایا د طالبانو د واکمنۍ له رنگېدو وروسته وضعیت ښه شوی؟
۲ مخ

د افغانستان د سیاسي بې ثباتۍ لاملونه
۳ مخ

## د وردگو په سید اباد کې د هاوان مرمۍ لگېدو د یوې کورنۍ څلور غړي وژلي

د وردگو ولایت د سید آباد ولسوالۍ اوسېدونکي وایي، چې په دغې ولسوالۍ کې د هاوان مرمۍ د لگېدو په پېښه کې د یوې کورنۍ څلور غړي وژل شوي او پنځه نور ټپیان شوي دي.

دوی وایي چې دغه پېښه ورمه ورځ ماښام مهال د روژه ماتي پر وخت د یادې ولسوالۍ اړوند اوتړیو سیمه کې شوې ده. دوی زیاتوي، چې په وژل شویو او ټپیانو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي. له دې پېښې وروسته ځایي خلکو د اعتراض په ډول د وژل شویو کسانو جنازې د کابل ـ کندهار لویې لارې ته راوړې وې او د عدالت غوښتنه یې کوله.

که څه هم تر اوسه رسمي سرچینو دا نه ده تایید کړې، چې دغه هاوان د چا له خوا توغول شوی، خو تر دې مخکې په هم په یاده سیمه کې ورته پېښې رامنځته شوي، چې حکومت یې مسوول طالبان بولي، خو طالبانو بیا دغه ادعا ردوي او وایي چې په سیمه کې د افغان ځواکونو مېشت نظامي مرکزونه او بېسونه د ملکي خلکو پر کورونو هاوانونه توغوي چې له کبله یې ملکیانو ته ځاني او مالي زیانونه اوړي.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د بهرنیو ځواکونو د وتلو له اعلان سره هممهاله د هېواد په ډېریو ولایتونو کې جگړې زیاتې شوې، چې پر ښکېلو غاړو سربېره پکې ملکیانو ته هم درنه مرگ ژوبله اوښتې ده.

## د افغان سولې د بریالیتوب لپاره له نړیوالې ټولنې سره په گډه کار کوو




۵ مخ



## گوگل

گوگل له ۲۰۰۷ کال راهیسې هره ورځ په ټوله نړۍ کې له یو میلیون ډېر دې ډېټا سرورونه چلوي او همدارنگه له ۲۰۰۹ کال راهیسې هره ورځ له زرو میلیونو ډېرې د لټون یا سرچ غوښتنې ځوابوي.




## کرنې وزارت: په هېواد کې د چهارمغزو د تولید کچه ۱۵زره متریک ټنو ته رسېدلې



کرنې وزارت وايي چې په هېواد کې د چهارمغزو د تولید کچه نږدې ۱۵ زره متریک ټنو ته رسېدلې ده.

یاد وزارت زیاتوي، چې چهامغز د افغانستان د وچو مېوو عمده قلم دی، چې د ۲۸ ولایتونو پر ۵۰۰۰ هکتاره ځمکو باندې یې ونې کرل شوې دي. د کرنې وزارت ویاند اکبر رستمي زیاتوي: «په تېر ۱۳۹۹ کال کې افغانستان کې ۱۴۸۷۷ ټنه چهارمغز تولید شوي دي. ډېر اورښت او د بزگرانو څخه د کرنې وزارت ملاتړ د دې باعث شوي چې د دې مېوې حاصلات لوړ شي.»

رستمي وايي، چې بدخشان د ۴۵۰۰ متریک ټنو په تولید سره په افغانستان کې لومړی، کاپیسا د ۲۵۰۰ ټنو په تولیدولو سره دویم او پروان د ۱۵۰۰ ټنو په تولیدولو سره په افغانستان کې د چهارمغزو تر ټولو لوی تولیدوونکي ولایتونونه دي. د کرنې وزارت معلومات ښيي چې بغلان، کابل، نورستان، لغمان او دایکنډي هم د چهارمغزو د تولید د لویو تولیدوونکو ولایتونو په ډله کې دي.

## سازمان ملل: حملات بر خبرنگاران و مدافعان حقوق بشر در افغانستان نگران کننده است



ماری لاولر، گزارشگر ویژه سازمان ملل متحد در امور مدافعان حقوق بشر، جزئیات نامه‌ای را همگانی کرده که بیانگر نگرانی او از حمله به خبرنگاران و مدافعان حقوق بشر درافغانستان است. ماری لاولر نامه‌ای را همگانی کرده که به نماینده افغانستان در سازمان ملل فرستاده و در آن نوشته شده: «ما به ویژه از عدم گزارش بررسی‌های صورت گرفته در مورد این قتل‌ها و ادامه خشونت‌ها علیه خبرنگاران و فعالان حقوق بشر نگران هستیم.»

در نامه همچنین آمده که عاملان چنین حمله‌های هدفمندانه به دلیل معافیت از مجازات به حمله‌های خود ادامه می‌دهند.

در نامه از مقام‌های افغان خواسته شده که برای تامین عدالت و جلوگیری از حمله‌های بعدی، تحقیقات کامل، مناسب، پیگرد قانونی و محاکمه عادلانه متهمان قتل‌های خبرنگاران و مدافعان حقوق بشر آغاز شود.

در همین حال مجیب خلوتگر رئیس سازمان حمایت از رسانه های آزاد افغانستان (نی) گفته که حکومت افغانستان برای رسیدگی به پرونده‌های قتل خبرنگاران کاری انجام نداده و این به گفته او، زمینه حمله‌های بیشتر علیه آنها را فراهم کرده است. او افزود: «متاسفانه حکومت افغانستان در زمینه قتل خبرنگاران و پیگیری دوسیه‌های قتل خبرنگارن به ویژه قتل‌های هدفمندانه که از حدود یک سال به این‌سو جریان دارد، کار بسزای انجام نداده است. این باعث شده تا کسانی که دست به قتل خبرنگاران می‌زنند، شجاعانه‌تر از گذشته خبرنگاران را به قتل برسانند.»


Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو
د ژوند ملگری کړئ
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## سرليکنه

# د کرونا نوې څپه او افغانستان ته ور پېښ ګواښ

د افغانستان د ګاونډيو او سيمه ييزو هېوادونو په ګډون، ځينې هېوادونه د کرونا يوې نوې څپې لاندې کړي دي. يوازې په هند کې په دريو ورځو کې تر يو ميليون زيات کسان پر کرونا اخته شوي او زرګونه کسان يې وژلي دي. دغه راز په ايران کې هم د کرونا نوې څپه خوره شوې چې ډېر کسان پرې اخته شوي دي. په ځينو نورو هېوادونو کې همدا حال دی. په افغانستان کې په رسمي ډول د نوې څپې په اړه څه نه ويل کېږي، خو اوس هم خلک پر کرونا اخته کېږي او معلومه نه ده چې دا نوې څپه ده او که څنګه.

د کرونا نوې څپه د افغانستان ځنډو ته را رسېدلې ده، خو په افغانستان کې تدابير په نشت حساب دي. داسې وېره ده چې د کرونا نوې څپه به افغانستان ته راشي او له دې امله چې دلته ورته هېڅ ډول تدابير نشته، نو ډېره مرګ‌ژوبله به هم واړوي. له بده مرغه په افغانستان کې نه د کرونا د راتګ د مخنيوي لپاره کوم څه کېږي او نه هم بيا د ناروغانو د درملنې لپاره امکانات شته. د کرونا د مخنيوي لپاره تر ګردو مهمه او اساسي لاره دا ده چې د راتګ مخنيوی يې وشي. مخکې له دې چې کرونا خوره شي، بايد حکومت ټول تدابير ونيسي چې نوې څپه افغانستان رانه شي. ټول هغه کسان چې له ګاونډيو او نورو هېوادونو راځي، بايد د کرونا ټېسټ يې وشي. همدا اوس د افغانستان او هند تر منځ ډېر پراوزونه دي او د دې تر څنګ د نورو هغو هېوادونو او افغانستان تر منځ هم پروازونه شته، چې د کرونا نوې څپه پکې خوره شوې ده. له بده مرغه له همدغو هېوادونو افغانستان ته خلک راځي، خو هېڅ ډول تدابير ورته نشته. حيرانوونکې دا ده چې که هر څوک له افغانستان څخه هر هېواد ته ورځي، بايد د کرونا ټېسټ يې کړی وي او پايله يې منفي وي، خو که افغانستان ته راځي، بيا ترې څوک د کرونا د ټېسټ پوښتنه نه کوي. له همدې امله د کرونا د نوې څپې د راتګ وېره جدي ده.

اوس پکار ده چې نور دا بې غوري ونه شي. د هند په ګډون له هر هېواد څخه چې څوک راځي، هم بايد تر پرواز مخکې يې په ۲۴ ساعتونو کې د کرونا ټېسټ کړی وي او پايله يې منفي وي او هم چې کله افغانستان ته راځي، دلته بايد په هوايي ډګر او نورو ډګرونو او پولو کې يې د کرونا ټېسټ وشي. دا کسان بايد آن تر ۱۴ ورځو پورې تر څار لاندې وي. همدا د کرونا د مخنيوي اغېزناکه لاره ده. خو که د کرونا نوې څپه راغله او خپره شوه، نو بيا يې نه په کرنتين مخه نيول کېږي او نه هم زموږ روغتونونه او روغتيايي سيستم دا وړتيا لري چې لازمه درملنه يې وکړي. له همدې امله چارواکي بايد نور غفلت پرېږدي او په جدي ډول په دې برخه کې ګامونه واخلي، څو موږ د کرونا له نوې مرګونې څپې خوندي شو.

# افغانستان؛ ايا د طالبانو د واکمنۍ له ړنګېدو وروسته وضعيت ښه شوی؟

بي‌بي‌سي- پښتو

د امريکا ولسمشر جو بايډن وايي، د راتلونکي سپټمبر تر ۱۱مې له افغانستان خپل ځواکونه باسي. دغه ځواکونه نږدې شل کاله وړاندې د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱مې له بريدونو وروسته افغانستان ته راغلل او د طالبانو واکمني يې ړنګه کړه.

د برېټانيا لوی درستيز جنرال نيک کارټر څو ورځې وړاندې د ښځو ژوند، زده کړو او رسنيز ډګر کې پرمختګونو ته په اشارې سره بي‌بي‌سي ته وويل چې «افغانستان په دې موده کې ډېر پرمختګ کړی.»

موږ دې ليکنه کې د دې د مالومولو هڅه کړې چې رښتيا په دغو برخو کې څومره پرمختګ شوی دی.

**د ناوتريخوالي کچه څومره ده؟**

په څو وروستيو کلونو کې که څه هم هڅې روانې وې چې له طالبانو سره سوله وشي او په دې توګه له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو وتلو ته لار اواره شي، خو جګړې بيا هم ونه درېدې.

ملګري ملتونه وايي، د روان ۲۰۲۱ کال لومړيو دريو مياشتو کې د تېر کال د همدې مودې په پرتله افغانستان کې ملکي مرګ‌ژوبله د پام وړ لوړه وه. د روان ناوتريخوالي په ملکي قربانيانو کې د ښځو او ماشومانو شمېر هم لوړ دی.

د دې ملکي مرګ‌ژوبلې د ستري برخې مسووليت د طالبانو په څېر پر وسله‌والو ډلو اچول شوی دی.

په ۲۰۲۰ کال کې تر ۳۰۰۰ ډېر ملکي افغانان وژل شوي وو. اصلاً تېرو اوو کلونو کې د افغانستان جګړه کې د وژل شويو ملکيانو شمېر له ۳ زرو نه دی راکښته شوی.

بي‌بي‌سي د ۲۰۱۹ کال اګسټ مياشت افغانستان کې روان ناوتريخوالي څارلی او مونډلي يې وه چې دغه هېواد کې هره ورځ ۷۴ ښځې، ماشومان او سړي وژل کېږي.

تر دې مخکينی کال خو چې ۳۸۰۰ ملکي کسان پکې وژل شوي او ۷۱۸۰ ټپي شوي وو، افغانستان کې د روانې جګړې تر ټولو خونړی کال و.

**د ښځو وضعيت څنګه دی؟**

۱۹۹۰يمه لسيزه کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال ښځو ته د کار اجازه نه وه او همدا راز د زده کړو زمينه هم ورته نه وه برابره، خو په ۲۰۰۱ کال کې وضعيت بدل شو.

که څه هم د افغانستان د ملي احصايې اداري ارقام ښيي چې لا هم د دولتي ادارو او ملکي خدماتو لويه برخه کارکوونکي نارينه دي، خو د تېرو دوو لسيزو پر مهال د ښځو شمېر هم پکې ډېر شوی دی.

شمېرې ښيي چې په ۲۰۰۴ کال څه باندې ۵۱ زره ښځو په دغو ادارو کې کار کاوه، خو دا شمېر په ۲۰۱۸ کال چې وروستي خپاره شوي ارقام هم د همدغه کال دي، ۸۷ زرو تنو ته لوړ شوی دی.

په دې موده کې د ملکي ادارو د نارينه کارکوونکو شمېر هم لوړ شوی، خو د ښځو سلنه ترې لوړه ده (۶۹ سلنه ښځې او ۴۱ سلنه نارينه.)

د ملي احصايې اداري لخوا خپرو شويو مالوماتو کې دا ارقام نشته چې څومره ښځې د کومې کچې پر بستونو کار کوي او د نارينه‌وو په پرتله يې تنخواګانې څنګه دي. د غيردولتي ادراو اړوند مالومات هم لا نشته.

افغانستان کې د جنسيتي برابرۍ په اړه د امريکا وروستي رسمي راپور وايي، چې اوس ‹بې مخينې› شمېر ښځې د عامه خدماتو ادارو کې کار کوي او همدا راز پارلمان، ولايتي او د ولسواليو شوراګانو کې هم ورته لږترلږه قانوني ونډه پام کې نيول شوې ده.

دغه راپور کې د افغان ښځينه پوليسو او قاضيانو شمېر کې هم د پام لوړوالي يادونه شوې. افغانستان په ۲۰۰۵ کال کې يوازې ۱۸۰ ښځينه پوليسې درلودې؛ خو تر ۲۰۱۹ کال يې شمېر ۳۵۶۰ تنو ته رسېدلی دی. همدا راز د ښځينه قاضيانو شمېر هم په ۲۰۰۷ کال له ۵ سلنې څخه تر ۲۰۱۸ کال پورې ۱۳ سلنې ته لوړ شوی دی.

**د ښځو زده کړو کې څه توپير راغلی؟**

د بشري حقونو د څار نړيوال سازمان وايي، افغانستان کې ښوونځيو ته د تلونکو ماشومانو شمېر چې په ۲۰۰۱ کال کې يو ميليون ته هم نه رسېده، تر ۲۰۱۷ کال پورې ۹ اعشاريه ۲ ميليونو ته لوړ شوی چې ۳۹ سلنه يې نجونې دي.

که لومړنيو زده کړو ته وکتل شي، نو د ملګرو ملتونو ارقام ښيي چې تر ۲۰۱۲ کال پورې ښوونځيو کې د نويو شاملو شويو نجونو شمېر تر ۴۰ سلنې اوښتی، خو تر هغې را وروسته ښېرته يو څه راکم شوی دی.

له ماشومانو سره د بشري مرستو برخه کې د ملګرو ملتونو اداري يا يونيسېف د ۲۰۱۹ کال په يوه رپوټ کې ويلي وو: «افغانستان کې ښوونځيو ته د هر عمر تلونکو نجونو شمېر د هلکانو په پرتله کم دی، خو دا جنسيتي واټن له ۱۰ کلنۍ لا پسې پراخېږي او ۱۴ کلنۍ کې اوج ته رسېږي.»

په دغه رپوټ کې راغلي چې افغانستان کې له زده کړو د ۳ اعشاريه ۷ ميليونو پاتې ماشومانو ۶۰ سلنه نجونې دي.

يونيسېف همدا راز وايي، د افغانستان ډېرو برخو په ځانګړې توګه د طالبانو او نورو وسله‌والو تر کنټرول لاندې سيمو کې ښوونځيو کې د نجونو شموليت خورا ټيټ دی.

(له ۲۰۱۷ تر ۲۰۲۱) د افغانستان د زده کړو ملي ستراتيژيک پلان هم په دې ټينګار کوي، چې زده کړو ته د مساوي لاسرسي د ډاډمنتيا لپاره اړتيا ده چې د نجونو پر زده کړو پانګونه وشي. افغانستان کې تر ټولو ډېرې ښځې د پوهنې سکټور کې کار کوي.

تر ۲۰۱۸ کال پورې د افغانستان د ټولو ښوونکو درييمه برخه ښځې وې.

رسمي شمېرې ښيي چې له ۲۰۰۲ تر ۲۰۱۸ کال پورې دولتي پوهنتونونو کې د ښځينه محصلانو شمېر اووه برابره لوړ شوی دی. دا ارقام همدې موده کې پوهنتونونو کې د شاملو شويو هلکانو د سلنې په پرتله لوړ دي.

خو د يادونې وړ ده چې د افغانستان د بيارغونې د څار پر چاره بوختو امريکايي چارواکو دې برخه کې د رسمي مالوماتو ستونزو ته په اشارې ويلي، د نويو محصلانو شمېر ښايي د ځينو عواملو له کبله ډېر ښودل شوی وي.

**د بېوزلۍ کچه کې څه بدلون راغلی؟**

افغانستان د نړۍ له ډېرو بېوزله هېوادونو دی، خو په ۲۰۰۱ کال کې د امريکا تر بريد وروسته د نړيوالو مرستو د ورماتېدو له کبله د دغه هېواد اقتصاد په چټکۍ وده پيل کړه.

د نړيوال بانک لخوا د خپرو شويو مالوماتو له مخې، د ۲۰۰۳ او ۲۰۱۲ کال تر منځ د افغانستان د اقتصادي ودې منځنۍ کچه ۹ اعشاريه ۴ سلنه وه.

خو د نړيوالو مرستو له کمېدو او د امنيتي وضعيت خرابېدو سره د افغانستان اقتصادي وده سوکه شوې ده. پر دې سربېره له ۲۰۱۵ کال راهيسې ډېر افغانان له بهره خپل هېواد ته راستانه شوي چې د وګړو شمېر ورسره ډېر شوی دی.

افغانستان د بېوزلۍ د تعريف لپاره ۲ زره ۶۴ افغانۍ (نږدې ۳۱ ډالر) مياشتنۍ سړي سر عايد ټاکلی، خو په ۲۰۱۶ - ۲۰۱۷ کلونو کې افغانستان کې د ژوندانه د وضعيت مالومولو لپاره تر سره شوې دولتي سروې ښيي چې ۵۴ سلنه افغانان دا پيسې هم نشي ګټلی (د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي). د بېوزلۍ دا کچه په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو کې ۳۸ سلنه وه.

تر ټولو وروستۍ سروې چې د ۲۰۱۹ کال اګسټ مياشت کې د ګالوپ انټرنيشنل لخوا تر سره شوې، دې ته اشاره کوي چې د تېرو څو کلونو سختې وچکالۍ د خوړو امنيت زيانمن کړی دی.

دې سروې کې له هرو لسو پوښتل شويو کسانو شپږ تنو ويلي وو، چې له تېرو دريو کلونو راهيسې په سخته پر وخت خواړه پيدا کوي.

د افغانستان نسبتاً کمزورو روغتيايي او ټولنيزو زيربناوو ته په کتو د کرونا وبا اغېزو ښايي وضعيت لا پسې خراب کړی وي.

# ايا په افغانستان کې به د ملکي وګړو پر وړاندې شويو جنايتونو ته رسېدنه وشي؟

بشير خواخوږی

د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر يوولسمې نېټې له پېښې وروسته امريکا د دوی په ټکو د ترهګرۍ له منځه وړلو لپاره د طالبانو واکمنې ړنګه کړه او خپل زرګونه پوځيان يې راوليږل او د څه باندې خلوېښتو نورو هيوادونو عسکرو يو ائتلاف يې رامنځته کړ او له خپل پوځ سره په عملياتو کې يې ملګري او يو ځای کړل.

دې جګړې پوره تر شلو کلونو زيات وخت ونيو او اوس تازه اعلان شوی دی چې امريکايي ځواکونه به تر سپټمبر مياشتې پورې له افغانستان څخه وځي، چې ورسره سمدستي ناټو هم د ځواکونو د وتلو اعلان وکړ.

متاسفانه چې په دې موده کې د جګړې د ښکېلو اړخونو زياتې خپلسرۍ، جنګي او بشري ضد جنايتونه تر سره شول، چې د جګړې د ښکېلو اړخونو په برخه کې د دولت، وسله‌والو مخالفينو او بهرنيو ځواکونو له لوري هم ملکي مرګ‌ژوبله وشوه او تر اخره يې د جګړې د قربانۍ ډېره برخه ملکي وګړي وو. په دغه موده کې اکثره داسې سختې سرغړونې او جنايتونه پټ پاتې شوي دي چې د زياتو ملکي او بې ګنا وګړو ژوند يې اخيستی دی، له دې اړخه په دې وروستيو کې د استراليايي ځواکونو يوه سرغړونه او بشري ضد جنايت رسنيز شوی او ښکاره شوی دی. د راپورونو له مخې. قصداً يې ملکيان او عام خلک په نښه کړي او وژلي دي، بې ګنا انسانانو ته يې ځاني او مالي زيانونه اړولي دي، په داسې حال کې چې په دې موده کې د ترهګرۍ په نوم د دولت د وسله‌والو مخالفينو پر وړاندې مبارزې داسې ښکاره پايله نه ده ورکړې.

په دې ترڅ کې د استراليا پوځ د دغسې ناوړه سرغړونو له امله په تور لېست کې شامل کړی شوی دی، چې په افغانستان کې د ملکي وګړو پر وړاندې يې ډېرې ناوړه پېښې تر سره کړې دي. د معلوماتو له مخې، د استراليا ځانګړي پوځ د خپل ماموريت په ځای کې ملکيان د خپلې نښې ګرځولو، د ستونې پرې کولو، قصداً ملکيان او حتی کم عمره ماشومانو باندې زړه سوی او رحم نه دی کړی او وژلي يې دي.

د تېر کال په نومبر مياشت کې د استراليا خبري رسنيو خبر ورکړ، چې د استراليا ځانګړي پوځ په افغانستان کې په بې رحمانه توګه د دوو بې ګنا ماشومانو په ګډون، ۳۹ کسان وژلي دي. دغه پېښه سمدستي په نړيواله کچه د غندنې او کرکې سبب شوه او ډېرو هيوادونو په افغانستان کې د استراليا د پوځ پر جنايتونو او بشري ضد کړنو باندې انتقادونه وکړل.

د بشري حقونو فعالان او مدني بنسټونه وايي چې د ملکي وګړو قصداً وژل سخت عمل دی او بايد نړيواله ټولنه په دې اړه پوښتنه وکړي.

مدني بنسټونه وايي، دوی د سولې ساتنې په نوم ځانګړی پوځ دی يا که د وژنې پوځ؟ که څه هم په افغانستان کې د استراليا پوځ ناوړه کړنې تر سره کړې، خو د استراليا پوځ يې په اړه هيڅ غبرګون نه دی ښودلی، حتی خپله خاموشي او سکوت يې تر اوسه ساتلی دی. که دوی ته د دغسې کړنو په اړه هيڅ جزا ورنه کړل شي، انساني اخلاق چېرې دي؟ او لا زيات به د دغه ډول پر رواني ناروغيو اخته عسکرو د ځورېدو سبب شي.

د افغانستان خلک غواړي، چې دغه پېښه بايد حل او عاملين يې مجازات شي او د وژل شوو کورنيو غږ، افغانانو او ټولې نړۍ ته يو عادلانه ځواب ورکړي، خو لا تر اوسه ليدل کېږي چې استراليا په خپله تېروتنه اعتراف نه دی کړی او داسې ښکاري چې حکومت به يې په افغانستان کې هغو عسکرو ته چې بې ګنا ملکسان يې وژلي دي او داسې سخت جرمونه يې تر سره کړي دي، هيڅ جزا ورنه کړي.

ايا دا ډول پېښې په دې ځای کې پای ته رسيږي او که په عموم کې د ملکي بې ګنا وګړو وژنې همداسې دوام کوي؟ که د استراليايي فوځونو دغه پېښه ونه څېړل شي، ښايي چې هغه بې ګنا خلک به همداسې هير شي او يوازې به د مړه شوو خلکو د وارثانو زړونه د عدالت په تمه او انتظار پاتې اوسي او جنايتکارانو ته د جزا ورکولو توان به نه لري.

په جګړو کې د ښکېلو غاړو له لوري د ملکي وګړو ژوند ته نه پاملرنه د خلکو تر ټولو لويه نيوکه ده او وايي چې نور دې په هيواد کې جګړه پای ته ورسيږي او د يوې داسې سولې لپاره دې ګډې هڅې وشي، چې د افغانستان راتلونکی ورسره امن او روښانه وي.

# د افغانستان د سیاسي بې ثباتۍ لاملونه

شمس الدين شمس

لومړۍ برخه:

ولې افغانان د تاریخ په اوږدو کې د پرمختګ او ښې حکومتولۍ پر وړاندې درېدلي؟ هر حکومت چې شعار یې پرمختګ، ابادي او سوکالي و؛ له کم وخت وروسته نسکور شوی، ولې؟ زموږ په هېواد کې هر حکومت چې د پرمختګ په کارونو کې لړ څه وړاندې تللی، په بېلابېلو دلایلو نسکور شوي، یا که پوښتنه دا ډول مطرح شي چې ولې افغانستان سیاسي ثبات ته نه دی رسیدلی؛ لړ تر لړه په تیرو سلو کلونو کې موږ دې دا ډول حکومتونو دوې بېلګې لرو: غازي امان الله خان چې په تاریخ کې په ترقي غوښتونکي پاچا مشهور دی، د انګریزانو له ایستلو وروسته یې حکومت تشکیل کړ، په هیواد کې یې د پرمختګ کارونه پیل کړل، خو له لږ وخت وروسته ورته د کافر خطاب وشو او له هیواده پسې واخیستل شو. دویمه بېلګه یې سردار محمد داوود خان دی، کله چې یې واک تر لاسه کړ، د هیواد د پرمختګ لپاره یې یو پراخ پرمختیایي پلان جوړ کړ، د یاد پلان له عملي کولو لږ وروسته د نوموړي حکومت نسکور او دې ده په ګډون یې د کورنۍ ټول غړي ووژل شول، چې له هغه وروسته تر نن ورځې پورې په هیواد کې سیاسي ثبات نه دی رامنځ ته شوی.

تر ټولو د افسوس خبره دا ده چې هغو خواوو چې د اسلام یا اصلاحاتو په نوم یې حکومتونه نړولي، وروسته چې کله قدرت ته رسیدلي تر ټولو زيات فساد او سرغړونه همدوی کړې ده. د بېلګې په توګه، د داوود خان له کودتا وروسته نورمحمد ترکي او ملګرو یې د کودتا موخه د ظلم مخنیوی او د اصلاحاتو رامنځ ته کول وبلل، خو وروسته زیاته مرګ ژوبله او ظلم همدوی او له دوی وروسته حکومتونو وکړ، حتی هېواد ته یې د روسانو د راوستلو زمینه برابره کړه، مجاهدینو د اسلامي نظام د قایمولو، د ظلم له منځه وړلو او هېواد ته د ازادۍ تر لاسه کولو په موخه په جهاد لاس پورې کړ، خو کله چې قدرت ته ورسیدل تر ټولو زیات وحشت او ظلم د همدوی په سلطه کې وشو، قتل، چور، د ملي شتمنۍ لیلامول او ډېر نور کارونه یې وکړل. دوی تر ټولو بد نظام نظارې ته وړاندې کړ، د همدوی په دوره کې له اسلامي قوانینو څخه تر ټولو زیاته سرغړونه وشوه. له هغه وروسته تر نن ورځې په هیواد کې همدا بد حالت دی. د یادو بدمرغیو د رامنځته کیدو لاملونه سیاسي شنونکي او د چارو کارپوهان د ملت د پوهې د کچې ټیټوالی، د ګاونډیو هیوادونو او نړیوالو استخباراتو مداخلې او د افغانستان جیوپولیټیک موقعیت چې نړیوال زبرځواکونه او ګاونډیان یې سره په سیالي کړي دي، ښودلي. همدارنګه په کور دننه عام نظر د غدارو، پردیپالو او فاسدو چارواکو شتون د ځواکمن حکومت د رامنځ ته کېدو پر وړاندې خنډ بلل کیږي.

ربښتیا هم پورته ټول لاملونه د هېواد د وروسته پاتې والي سبب شوي، خو دا هم طبعي خبره ده چې هر هیواد غواړي چې ځواکمن وي، په لرې او نږدې ګاونډیانو هیوادونو نفوذ ولري، د دوی تر امر لاندې وي یا لږ تر لږه ستونزه ورته جوړه نشي کړای. نړیوال زبرځواکونه هم د خپل حاکمیت د لا پراخولو لپاره د نړۍ په هر ګوټ فشار راوړي، معاملې کوي، جګړې کوي او نظامونه له منځه وړي؛ خو دا هر څه باید په دې مانا نه وي چې زموږ حکومت او نظام په اسانۍ سره له منځه یوسي، د ملت په حیث د ورځې له سیاسي چارو سره باید ډېر معقول تعامل وشي. زما په نظر، سره له دې چې پورتني عوامل د هیواد د سیاسي بې ثباتۍ او وروسته پاتې والي سبب دي، خو په کور دننه اصلي لاملونه لاندې درې کیدای شي: لومړی؛ د ملت د پوهې د کچې ټیټوالی او د زده کړو ناسم سیستم: زده کړې د غوره ژوند په تر لاسه کولو کې خورا مهم رول لري، ځکه زده کړې د انساني ژوند تر ټولو مهم لاربښود دي. زده کړې د یو هیواد د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ سبب ګرځي، نو پر دې اساس زده کړې د یو ملت د پرمختګ بنسټ جوړوي. خوله بده مرغه زموږ د هېواد ډېری وګړي نالوستي او د پوهې کچه یې خورا ټیټه ده، حتی خپل ورځنی ژوند خورا په مشکله مخ وړي، دا وګړي کوم ثابت فکر نه لري او همېشه د نورو له افکارو متاثره کیږي؛ نو ځکه یې د نظام په ټینګښت کې رغنده رول نه دی لوبولی/نشي لوبولی او دا هم حقیقت دی چې په هیواد کې هر وخت د لوستي قشر تر منځ شخړه رامنځته شوې، چې له نالوستي قشر څخه یې خپلو اهدافو ته د رسېدو لپاره د یوې وسیلې په توګه استفاده کړې او تر ټولو ډېر تاوان هم لوستي قشر هېواد ته رسولی، دا ځکه چې موږ د زده کړو اغیزمن سیستم نه لرو، د زده کړو پخوانی او اوسنی سیستم نه دی توانېدلی، چې د مدرسې او ښوونځي تر منځ واټن له منځه یوسي او ملي فکر رامنځ ته کړي. همېشه د هیواد په کچه د مدرسې او ښوونځي تر منځ واټن موجود و او ده چې همدا واټن د ارګ او منبر تر منځ د اختلاف سبب شوی دی. دا چې زموږ په هیواد کې همېشه د عصري او دیني زده کړو د لوستو تر منځ (فکري) ټکر راځي، تر ټولو ښکاره سبب یې د مدرسې او ښوونځي تر منځ واټن دی. همدا واټن په هیواد کې د سیاسي بې ثباتۍ لامل کیږي. له پخوا راهیسې په افغانستان کې د دیني او عصري زدکړو مرکزونه سره بېل دي، حکومت د تاریخ په اوږدو کې د ښوونځي په پرتله د دیني زده کړه په مرکزونو لازمه پانګونه نه ده کړې، چې دا د افغانستان لپاره دوه ستر زیانونه لري: لومړی دا چې د دیني زده کړو زیاتره زده کوونکي د زده کړو لپاره له هیواده بهر ګاونډیو هیوادونو ته ځي، چې له بده مرغه هغوی یې د خپلو سیاسي اهدافو لپاره د افغانستان پر ضد په ډېرې اسانۍ سره کاروي. دویم دا چې د دیني زده کړو زده کوونکي له حکومت سره خپل تړون نه احساسوي، د بېلاوالي او پردیوالي احساس کوي چې دا په هیواد کې د شخړو لامل شویی او لا کیږي. همدارنګه کله چې د دیني زده کړو زده کوونکي د ښوونځي زده کوونکيویني چې په ښو ودانیو کې زده کړې کوي او ښوونکي یې له حکومت څخه معاش تر لاسه کوي، یو ډول د حسادت احساس ورته پیدا کیږي چې همدا او دېته ورته احساس د مدرسې او ښوونځي د زده کوونکو د فکري بېلوالي بنسټ جوړوي. نو پر دې اساس لازمه ده چې دولت د زده کړو په سیستم کې داسې مثبت بدلونونه راولي، چې راتلونکی نسل په ملي فکر او روحیه وروزي. دا خورا مهمه ده چې حکومت مدرسه او ښوونځی سره ګډ(مدغم) کړي. په دې مانا چې له لومړي تر لسم یا دوولسم ټولګې پوري ۵۰ سلنه دیني او ۵۰ سلنه عصري زده کړې جبري شي، څو د دې هیواد هر وګړی له اسلامي او عصري زده کړو څخه لوړ درک ولري. د ښوونځي په دوره کې باید په اسلامي او عصري زده کړو یو شان تاکید وشي، د لېسې هر فارغ شوی زده کوونکی باید له قرآن او حدیثو څخه لوړ درک ولري او په عین حال کې به له عصري زده کړو څخه هم برخمن وي او د وطن دوستۍ لوړه روحیه باید له هماغه پیله ورته تزریق شي. دا کار به دوې ګټې ولري: یو به د فکري قشرونو (مدرسه/ښوونځی) د بېلاوالي مخه ډب کړي او دویم به زده کوونکي د کارکولو جوګه شي. په ځانګړې توګه په دولت کې د کارکولو امکانات یې زیاتیږي او په دې سره دوی د دولت بدنې ته جذب کیدای شي (اوسمهال د مدرسو فارغینو ته د کارکولو چانس کم دی، ځکه په اداره کې د کارکولو لازم مهارتونه نه لري.)

**دوام لري...**

# له نړیوالو غبرګونونو سره همماله؛

## سکاټ مېلر: ځواکونه مو وځي، تاوتریخوالي ته د طالبانو ورګرځېدل به تېروتنه وي



امریکایي ځواکونو له افغانستان د وتلو بهیر پیل کړی دی. په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال سکاټ مېلر په خپلو تازه څرګندونو کې ویلي، چې دوی له افغانستان د وتلو بهیر پیل کړی او ژر به ځینې نظامي اډې افغان ځواکونو ته وسپاري. نوموړي ویلي، چې ځینې تجهیزات افغان پوځ ته سپاري، خو ځینې بیا له ځان سره لېږدوي. هغه دا خبرداری هم ورکړی چې د مې تر لومړۍ نېټې وروسته جګړې ته د طالبانو ستنېدل به یوه ستره تېروتنه وي او طالبان باید مذاکراتو او سیاسي حل ته ادامه ورکړي.

وروسته له هغې چې د امریکا ولسمشر جو بایډن له افغانستان د سرتېرو د ایستلو اعلان وکړ، نو په سیمه او افغانستان کې د دغو ځواکونو د ایستلو لپاره تیاری پیل شوی دی. تازه په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قوماندان جنرال سکاټ مېلر هم ویلي، چې دوی د سرتېرو ایستل پیل کړي دي. هغه په کابل کې په یوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال ویلي چې د بایډن له امر سره سم د دوی سرتېري له افغانستان وځي او دمګړی دغه بهیر پیل شوی دی.

سکاټ مېلر د خپلو خبرو پر دوام پر طالبانو یو ځل بیا غږ کړی، چې سیاسي حل او د سولې خبرو ته ادامه ورکړي او جګړو ته دې نه ستنېږي. د ده په خبره، د دوحې له هوکړې سره سم تر مې میاشتې پورې باید بهرني ځواکونه له افغانستان وتلي وای او اوس طالبانو خبرداری ورکړی چې که بهرني ځواکونه تر مې له افغانستان ونه وځي، نو دوی به خپل بریدونه ډېر کړي. سکاټ مېلر ویلي چې د مې تر لومړۍ نېټې وروسته په تاوتریخوالي د طالبانو له لوري لاس پورې کول به وضعیت کړکېچن کړي او دا به یوه ستره تېروتنه وي. د ده په خبره: «تاوتریخوالي ته ورګرځېدل بې مانا او غمجنوونکی دی، خو دوی دې تېروتنه نه کوي! که پر ائتلافي ځواکونو هر ډول برید کېږي، نو موږ یې ځواب ته نظامي وړتیا لرو. موږ د افغان ځواکونو نظامي ملاتړ ته ادامه ورکوو. پر دې مسیر حرکت به یوه تېروتنه وي».

سکاټ مېلر دغه راز د تجهیزاتو د ایستلو په اړه هم ویلي چې ډېری تجهیزات به له ځان سره لېږدوي، خو ځینې به یې افغان ځواکونو ته پرېږدي. هغه ویلي، مهم توکي وړي، خو داسې توکي چې پوهېږي افغان پوځ اړتیا ورته لري، د دوی په واک کې به یې ورکوي. سکاټ مېلر د طالبانو او القاعده شبکې پر اړیکو هم څرګندونې کړې دي. د ده په خبره، دوی ډاډه دي چې طالبانو له القاعده شبکې سره اړیکې نه دي پرې کړې او احتمال شته چې د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته جګړې شدیدې کړي، خو د دغه وضعیت کنټرول د افغان سیاسیونو پر یووالي پورې تړلی دی. هغه زیاته کړې چې په دې حساسو شرایطو کې باید افغانان سره یو لاس شي او د خپل هېواد د راتلونکي په اړه دې ګډه پرېکړه وکړي.

د ګاونډیو هېوادونو په اړه هم سکاټ مېلر وویل چې د سولې له بهیر سره د دغو هېوادونو همکاري د ټولې سیمې په ګټه ده. د ده په وینا، ګاونډي هېوادونه باید د افغانستان د سولې له پروسې هېڅ راز همکاري و نه سپموي او دوی دې د افغان جګړې په پای ته رسولو کې مهم رول ادا کړي. هغه بیا هم وویل چې د ګاونډیانو تر څنګ د افغانانو مسوولیت هم دی چې د خپل هېواد د ژغورلو لپاره هڅې وکړي.

له دې ورهاخوا پخپله په امریکا کې هم له افغانستان د امریکایي ځواکونو ایستلو غبرګونونه پارولي دي. تازه د امریکا یوه پخواني لوړپوړي ډیپلومات د سرتېرو د ایستلو په اړه د بایډن پرېکړه له زړه ورتیا ډکه بللې او د هغې ستاینه یې کړې ده. د ده په خبره، په دې سره به امریکایي ځواکونه بېرته خپلو کورونو ته ستانه شي او یوه بې پایه جګړه به ختمه شي. د ده په خبره، افغانستان په وچه کې حصار هېواد دی او هوښیاران به پر دغه هېواد کار نه لري.

بلخوا په هېواد کې بیا داسې اندېښنې موجودې دي چې که بهرني ځواکونه له افغانستان وځي، نو د دې قوي احتمال ته چې طالبان د زور له لارې واک ته د رسېدو هڅه وکړي او د افغان حکومت پر وړاندې خپلې جګړې شدیدې کړي.

# راپورونه: د عراق په یوه روغتون کې د اورلګېدنې له کبله ۸۲ کسان مړه شوي

د عراق چارواکي وايي چې په دغه هېواد کې د کرونا ویروس د ناروغانو د درملنې په یو روغتون کې د اورلګېدنې له کبله ۸۲ کسان مړه شوي دي.

د عراق د کورنیو چارو وزارت زیاته کړې چې په دغې پېښه کې لږ تر لږه ۱۱۰ تنه نور ژوبل شوي دي. د یاد هېواد د کورنیو چارو وزارت ویاند خالد المهنه د عراق دولتي ټلویزیون ته ویلي: «موږ باید ژر تر ژره په ټولو روغتونونو کې حفاظتي اقدامات و ارزو چې په راتلونکي کې د دا ډول دردناکو پېښو مخه ونیول شي.»

په ورته مهال د عراق روغتیایي چارواکي وايي چې پېښه د اکسیجن د بالونونو په ځېرمتون کې د چاودنې له کبله رامنځته شوې ده.

په ټولنیزو رسنیو کې په خپرو شویو ویډیوګانو کې ښودل کېږي، چې د اطفایې مسوولین د ابن الخطیب په روغتون کې د اور په مړه کولو اخته دي. دا روغتون د بغداد په جنوب ختیځه سیمه کې دی. د اور له لګېدو وروسته ناروغان او د ناروغانو یو شمېر خپلوان له روغتون څخه وتلي دي.

په روغتون کې د یوه بستر ناروغ ورور احمد ذکي ویلي: « اور لکه تېل داسې ژر خپور شو. ما خپل ورور له روغتون څخه راوویست، بیا اخري پوړ ته وختم چې نه و سوځېدلی، هلته مې یوه ۱۹ کلنه نجلۍ ولیدله چې ساه یې بنده بنده کېدله او نږدې وه چې مړه شي.»

بلخوا د ولسي دفاع څانګې د عراق دولتي ټلوېزیون ته ویلي چې ۹۰ ناروغان او د ناروغانو ۱۲۰ خپلوان یې ژغورلي هم دي. د عراق د عامې روغتیا وزارت وايي چې په دغه هېواد کې شاوخوا یو میلیون کسان پر کرونا ویروس اخته دي او څه باندې ۱۵زره او دوه سوه نور کسان مړه شوي دي.

د یادونې ده چې عراق شاوخوا ۴۰ میلیون نفوس لري او د روغتیا وزارت یې وايي چې هره ورځ نږدې ۴۰زره کسان ځانونه معاینه کوي چې د کرونا په ویروس اخته نه وي.


د یاد هېواد چارواکي وايي چې په عراق کې د جګړو له کبله روغتونونه او روغتیایي خدمتونه ډېر خراب شوي او روغتونونه د ناروغانو د بسترونو او درملو له کموالي سره مخامخ دي.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

## پنځمه برخه
### حساسې شېبې





دولت: داسې فکر کول چې پاکستان به په افغانستان کې رول نه لري، داسې ده، لکه موږ چې ووايو موږ په نيپال کې رول نه لرو. افغانستان د پاکستان لپاره همدومره حياتي دی، لکه زموږ لپاره چې نيپال دی. که چېرې پاکستان د نيپال په منځ کې وي، زموږ لپاره د اندېښنې خبره ده. ما په کټمندو کې څلور کاله کار کړی دی او هلته مې هر وخت داسې انګېرله چې دا هېواد موږ ته ډېر نژدې دی. خو په دې وروستيو کې مو اړيکې هغومره ښې نه دي.
دوراني: کله چې زه په رياض کې سفير وم، زه يمن ته تللی وم، چې هر وخت مې د سعودي له بدبختۍ وروسته يادېږي، د صنعا په تاج هوټل کې زما ښه مېلمه پالنه وشوه. هلته ټول هنديان وو او ويل يې چې سفير له پاکستان څخه دی.

سېنها: هند په افغانستان کې هېڅ پاليسي نه لري؟
دولت: هغه د امريکا په پاليسۍ پورې تړلې ده. تر هغې چې امريکايان هلته دي، موږ کومه ستونزه نه لرو. موږ هېڅکله داسې فکر نه دی کړی، چې امريکايان به له هغه ځايه وځي. که چېرې ټرمپ ويلي وی چې هو وځو، هند ته به شک وي.
دوراني: هند هلته ګڼې پانګونې کړې، په رسنيو کې تر يوه حده او په ژورناليزم کې تر ډېره. په کلتوري لحاظ ان تر هراته چې ډېر ترې لرې هم دی، غځېدلې دي.
دولت: همداسې چې تاسې آزاد ياست، څو په نيپال او سريلانکا خپل اغېز ولرئ، هند هم حق لري چې په افغانستان خپل اغېز ولري.
دوراني: د پاليسۍ له مخې دوی کېدای شي ځينې قطعې په خپل لستوڼي کې وساتي، خو په ټوله کې په افغانستان کې د هند پاليسي هماغه د ګاونډي ګاونډي پاليسي ده...
دولت: د دښمن، دښمن زما دوست دی؟
دوراني: که د ټرمپ ادارې ته راشو، هلته د افغانستان د پاليسۍ په هکله هېڅ بدلون نه دی راغلی. هېڅ. مخکې اوباما نرم غږېدلو، خپل د بهرنيو چارو وزير به يې سيمو ته لېږلو او لرګی به يې هغوی ته په لاس ورکړی و، کوم به چې موږ ته راغلل او جدي غبرګون به يې ښکاره کاوه. هماغه پيغام اوس په لوړ غږ خپله د ولسمشر له خوا راځي.
په افغانستان کې اساسي پاليسي هماغه ده، چې هلته بايد اډې په هماغه بڼه، که تر ځمکې لاندې کلاوې دي او که لوړې ودانۍ؛ وساتل شي. دوی پر دې کلاوو بيليونونه لګښتونه کړي دي او دا نظر لري چې هملته به پاتې وي، ځکه دوی دا موقع بيا په افغانستان کې نشي ترلاسه کوای. هغه سيمه چې په تاريخي لحاظ لوی پوځونه ترې تېر شوي دي، په جيوپولټيک لحاظ موږ ورته «د ځمکې زړه» يا مرکزي سيمه ويلی شو. دا سيمه په افغانستان، پاکستان، چين، ايران، مرکزي آسيا او د نورو مهمو ځايونو په پرمختګونو د اغېزې وړتيا رامنځته کوي. دا د نړۍ د وصل يوه ښه سيمه ده.
د امريکا لپاره نور افغانستان، ايران، د پنجشير دره او دا چې نن په هلمند کې سوله ده، سبا په ډيلي کې؛ مهم نه دي.
سېنها: ټيلرسن د هند د پراخ رول او د هند او امريکا د ملګرتيا په هکله وغږېدلو.
دوراني: هند هلته خپل رول لري، خو د امريکا له وجې نه، بلکې د خپل نفوذ له وجې چې د کلتوري او مالي ملاتړ له امله يې ترلاسه کړی دی. د امريکا پر مټ د لا پراخ رول درلودل هغه دوکه ده، چې موږ يې زيانمن کړي يوو. هو ان د خپلو کابلي ملګرو لپاره هم د لا پراخ رول جوګه نه ده. دوی په خپلو کلاوو کې محدود پاتې دي. که څوک داسې انګېرې چې هنديان به د ټرمپ په خوښه افغانستان ته خپل ځواکونه ولېږي، نو هنديان ډېر ځيرک دي او له پوځي مداخلې به ځان وساتي. دا کار به د افغانستان او هند په اړيکو کې د خرابېدو پيلامه وي.
دولت: دا په زړه پورې ده او سمه برېښي، چې امريکايان د ګازر او لرګي لوبه کوي. زه ډاډمن يم چې د جنرال صېب نظر سم دی. زه هم په امريکايي پاليسۍ کې کوم بدلون نه وينم. يوازينی توپير دا دی چې جنرال صېب په پاليسۍ کې يوازې هغو ژورو اړو ته ګوري، خو هغه په ټوله کې پاليسي نه ده.
زه فکر کړم امريکايان ډېر لېوال دي چې له طالبانو سره خبرې وکړي، خو نه پوهېږي چې څنګه يې پيل کړي. زه د (۲۰۱۷. ز) کال په اوړي کې دوه ځلې لندن ته لاړم او داسې فکر کوم چې دوی به انګريزان په افغانستان کې ډېر وکاروي. ځکه هغوی لا باريک بين او په دې چارو کې مجرب دي. تر دې چې دوی په خپل هېواد کې هم د امريکايانو په پرتله له دې ډول ستونزو سره ښه برخورد کوي.CIA او MI٦ په خپل منځ کې دا تړون لري چې وايي، «څه چې زه نشم کولای، هيله ده ته يې راته وکړه.»
ټرمپ د پاکستان په کم ګڼلو کې په غلطه دی. امريکايان په دې پوهېږي چې دوی په افغانستان کې د پاکستان له مرستې پرته حرکت نشي کولای. زه نه پوهېږم چې دوی څنګه د هند ملګري شول، په داسې حال کې چې پاکستان او امريکا اوږده ملګرتيا لري. **دوام لري...**

# ګوګل

حشمت الله نوري

ګوګل په لومړي سر کې يوه څېړنيزه پروژه وه، ياده پروژه لري پېج او سرګي برين پيل کړه او دوی دواړو په سټانفورډ پوهنتون کې دوکتورا اخيسته. د دې پروژې نوم بک رب و، په دې پروژه کې د ځينو سايټونو ليکونه راټول شوي وو، په دې توګه به خلکو يو څه پلټل او د شته ليکونو له لارې به يې اړيکه سره ټينګه شوه او سره يو ځای به شول او که به د چا کومه موضوع پکار وه، په همدې ځای کې به يې د معلوماتو نوم ليکلو او که به په يو ځای شوو سايټونو کې په دې اړه څه وو، هغه به يې تر لاسه کړل. ګوګل په لومړي سر کې يوه خپلواکه وېبپاڼه نه وه، يوازې د رنک ډېسک په نامه وېبسايټ يو فرعي وېبسايټ و، چې وروسته بيا د ۱۹۹۷ کال په ډسمبر کې خپلواک وېبسايټ شو او په همدې نامه يې فعاليت پيل کړ.
ګوګل د ټکنالوژۍ يوه امريکايي ګڼ ملتيزه کمپنۍ ده، چې په انټرنېټ پورې د اړوندو خدمتونو او محصولاتو د وړاندې کولو په برخه کې کار کوي. ګوګل کمپنۍ په ۱۹۹۸ کال د لېري پېج (Larry Page) او سرګي برين (Sergey Brin) لخوا چې هغه وخت د امريکا په سټانفورډ پوهنتون کې د دوکتورا دورې محصلين وو، د متحده اياالتو د کليفورنيا ايالت په مينلوپارک سيمه کې تاسيس شوه، چې تر دې دمه په خپله برخه کې په ښه توګه کار کوي. ليري پېج چې پوره نوم يې لارينس پېج دی، يو امريکايي کمپيوټرپوه دی چې د ۱۹۷۳ کال د مارچ په ۲٦مه په امريکا کې زيږېدلی دی او له سرګي برين سره په ګډه يې د ګوګل کمپني جوړه کړې ده. ليري پېج اوس د ګوګل د پوښونکې کمپنۍ الفابېټ آی اېن سي (Alphabet INC) اجراييه رييس دی، په داسې حال کې چې د ليري شريک سرګي برين چې پوره نوم يې سرګي ميخايلوويچ برين دی، يو روسي الاصله امريکايی دی چې د ۱۹۷۳ کال د اګست په ۲۱مه په روسيه کې پيدا شوی دی.
ګوګل په پيل کې په کليفورنيا کې د (Susan Wojcicki) چې اوس د يوټيوب کمپنۍ اجراييه رييسه ده، د کور په ګراج کې کار پيل کړ او لومړنی کارکوونکی يې کريګ سيلورسټين و، چې دی هم په سټانفورډ پوهنتون کې د ګوګل د بنسټ اېښودونکو د دوکتورا دورې ملګری و.
د ګوګل د انکشاف لپاره لومړنۍ ونډه چې يو لک امريکايي ډالره وه، د ۱۹۹۸ کال په اګسټ کې د (Sun Microsystems, INC) کمپنۍ يوه بنسټ اېښودونکي انډي بيکټولشيم (Andy Bechtolsheim) برابره کړه. د ۱۹۹۹ کال په لومړيو کې سرګي برين او ليري پېج داسې پرېکړه وکړه چې د لټون د دغه انجن جوړول ډېر کار او ډېر وخت غواړي، نو په دې توګه هغه د دوی د درسونو مخه نيسي، نو ښه به دا وي چې خپله کمپنۍ خرڅه کړي، هغوی د دې کار لپاره د اېکسايټ (Excite) کمپنۍ اجراسيه رييس جورج بيل ته مراجعه وکړه او ورته يې وويل چې که غواړي هغوی به خپله کمپنۍ د يو ميليون ډالرو په مقابل کې پرې خرڅه کړي، خو جورج د هغوی وړانديز رد کړ.
سرګي او ليري بيا خپل کار ته دوام ورکړ. د ۱۹۹۹ کال د جون په ۷مه له ګوګل سره د ۲۵ ميليونو ډالرو د ونډو ورکړه اعلان شوه، چې لويو پانګهوالو پکې برخه واخيسته.
پنځه کاله وروسته د ۲۰۰۴ کال د اګسټ په ۱۹مه ګوګل خپل لومړنی خدمت عامو خلکو ته وړاندې کړ. دغه وخت ليري پېج، سرګي برين او ايريک شميت په خپلو کې سره هوکړه وکړه، چې تر ۲۰ کلونو ياني تر ۲۰۲۴ کال پورې به په ګوګل کې ګډ کار کوي. په همدغه ياني ۲۰۰۴ کال ګوګل د کليفورنيا ايالت ماونټين ويو په سيمه کې يوه نوي ځای ته ولېږدېد او د ګوګل پلېکس په نامه يې کار ته دوام ورکړ.
له کلونو برياليي سفر وروسته د ۲۰۱۵ کال په اګسټ کې ګوګل د خپلو نورو خويندو کمپنيو تر څنګ، د الفابېټ آی اېن سي تر چتر لاندې راغله.
ويل کيږي چې ګوګل له ۲۰۰۷ کال راهيسې هره ورځ په ټوله نړۍ کې له يو ميليون څخه ډېر د ډېټا سرورونه چلوي. همدارنګه له ۲۰۰۹ کال راهيسې هره ورځ له يو بېليون يا زر ميليونه ډېرې د لټون يا سرچ غوښتنې ځوابوي.
په ۲۰۱۱ کال کې په يوه مياشت کې د ګوګل د لومړي ځل کتونکيو شمېر له زرو ميليونو کسانو ډېر شو، چې دا د ۲۰۱۰ کال په نسبت چې په يوه مياشت کې به تر ۹۳۱ ميليونو خلکو ګوګل کتلو، ۸.۹ سلنه ډېربنت و. په ۲۰۱۳ کال اليکسا انټرنېټي کمپنۍ (Alexa Internet, Inc)چې مرکز يې په کليفورنيا کې دی او د سوداګريزو ويبسايټونو د ټرافيکو په هکله معلومات او تحليلونه وړاندې کوي، ګوګل په نړۍ کې د تر ټولو ډېر کتل کېدونکي ويبسايټ په توګه اعلان کړ.
د ۲۰۱۳ کال په جنوري مياشت کې ګوګل اعلان وکړ چې يادې کمپنۍ د ۲۰۱۲ کال په موده کې ۵۰ زره ميليونه امريکايي ډالر ګټه کړې ده. په دې توګه هغوی په ۲۰۱۱ کال کې د خپلې ۳۸ زره ميليونه امريکايي ډالرو په کړې ګټې باندې ښه واړوله.
دا ليکنه د ګوګل په هکله د يوې قالينې د زرګونو ګلانو له جملې څه د يوه ګل په مثال ده او ګوګل د ګوګل سرچ (لټون)، ګوګل الرټس، ګوګل بکس (کتابونه)، ګوګل فينانس، ګوګل هوټل فاينډر، ګوګل فلايټ سرچ، ګوګل آيمج سرچ، ګوګل ټرانسلېټ، ګوګل نيوز، ګوګل سکالر، ګوګل اډ ورډز، ګوګل شاپنګ او... په څېر سلګونه برخې او څانګې لري.
په اوس وخت کې ګوګل د ورځې له ۱۲۱ ميليونو امريکايي ډالرو څخه ډېره ګټه يوازې د اعلانونو د خپرولو يا د ګوګل اډ ورډز له لارې تر لاسه کوي. ګوګل کمپنۍ ځان ته يو شعار او يوه فلسفه لري، دوی وايي، تاسې کولی شئ له شرارت او ګډوډۍ پرته پيسې وګټئ. دوی وايي، يوازې فکر وکړئ او کوښښ وکړئ، د دې پر ځای چې نور ووژنئ، د فکر او کوښښ له لارې پيسې وګټئ. دوی وايي، کار کول ګران دي او ستونزې لري، نو تاسې کوښښ وکړئ چې له ستونزو د يوه ګيم په څېر ګټه پورته کړئ او له هغې خوند واخلئ. ګوګل کمپنۍ په خپل تاريخ کې له ډېرو لوړو ځوړو سره مخ شوې ده. په ۲۰۰۷ او۲۰۰۸ کلونو کې مهمو مديرانو ياده کمپنۍ يوازې پرېښوده، لکه په ۲۰۰۷ کال کې بنجامين لنګ فيسبوک کمپنۍ ته ولاړ او ګوګل يې پرېښود، ګيدويون د ګوګل له يوټيوب څانګې ولاړ او له فيسبوک سره يې کار پيل کړ. شريل سندبرګ فيسبوک ته ولاړ، چې د دې ادلون بدلون له امله لري پيج بېرته عمومي مدير شو او اريک اشميت اجرايي مديريت ته انتخاب شو. خو له ۲۰۱۵ کال راپدېخوا تر اوسه پورې سوندار پيچای د دې کمپنۍ اجرايي او عملياتي مدير دی. د ګوګل يوه بله فلسفه دا ده چې غواړي طبيعت ته ګټور تمام شي، دوی د همدې لپاره ډېر لګښتونه کوي څو په نړۍ کې داسې وسايل توليد کړي، چې چاپېريال ته زيان ونه لري. په ۲۰۰٦ کال کې يادې کمپنۍ پرېکړه وکړه چې سلګونه بېټرۍ سره يو ځای کړي څو د لمر له لارې چارچ شي او لږ تر لږه د دوی د کمپنۍ ۳۰ سلنه برېښنا توليد کړي. په دې توګه دا په امريکا کې د لمريزې برېښنا د توليد تر ټولو ستر سيستم دی. ګوګل چې په خپلو ځمکو او ودانيو کې کوم چمن کرلي، د هغې د لنډولو لپاره له ماشينه کار نه اخلي؛ بلکې د وزو رمې يې ساتلې دي. دا هم د دوی د فلسفې او فکر عمل ښيي چې غواړي چاپېريال ته ګټور تمام شي. سره له دې هم هارپر مجلې ګوګل کمپنۍ تورنه کړې چې دوی يوازې شعار ورکړ دی؛ بلکې نظر هغو برېښنا ته چې دوی يې لګوي او نظر هغو چاپېريال ته چې دوی يې ککړوي، د څو رمو وزو ساتل هېڅ هم دي.




ګوګل تر اوسه پورې تر سلو ډېرې کمپنۍ پېرلې دي. دا کمپنۍ تر ډېره په متحده اياالتو او د سانفرانسيسکو په خليجي سيمو کې پرتې دي.
په لنډه توګه به يې ځينې درته معرفي کړو:
ګوګل صفحه
دا د ګوګل کمپنۍ لومړنۍ صفحه يا کاروبار دی، چې تاريخ يې ۱۹۹۸ کال ته ورګرځي. ګوګل ميلياردونه وېبپاڼې په دې صفحه کې سره يو ځای کړې څو مينوال وکولی شي له دې لارې د خپلې خوښې وړ معلومات پيدا کړي. سره له دې چې دا کار د نړۍ د ډېرې وګړو خوښ دی، خو په ۲۰۰۳ کال کې نيويارک ټايمز شکايت وکړ چې دا د کاپي حق ته نه درناوی دی او په دې توګه ګوګل غواړي د نورو حقوق تر پښو لاندې کړي.
يوه بله مسئله چې ګوګل کار ورباندې کاوه، ګوګل بوکز وه، په دې توګه ګوګل کتابونه سکن کول او هغه کتابونه چې خپروونکو به يې اجازه ورکوله، هغه يې پر خپلو وېبپاڼو خپرول، وروسته د ۸۰۰۰ په شاوخوا کې ليکوالانو شکايت وکړ چې دا د تکثير د حقوقو خلاف دی او دې قضيې تر ۲۰۰۹ کال پورې دوام وکړ. په ۲۰۰۹ کال کې ګوګل اړ شو څو دا برخه يوازې امريکا او کاناډا ته ځانګړې کړي، خو په ټوله کې د ګوګل کمپنۍ تر ټولو مهمه برخه د ګوګل پلټونکی ماشين دی، د معلوماتو له مخې له دې لارې ګوګل کمپنۍ هره ورځ ميليونونه ډالر ګټه کوي، ښايي د باور وړ نه وي، خو دا يو حقيقت دی.
ګوګل کمپنۍ د سافټ ويرونو د توليد په برخه کې هم ډېر کار کړی دی. ګوګل کروم عملياتي سيستم، کروم پلټونکی، کروميوم، ګوګل ارت، ګوګل پکج، پيکاسا، اسکچ آپ، جي تاک، ګوګل آپ انجن او نور يادولی شو.
اندرايد عملياتي سيستم پر پورته سافټ ويرونو سربېره بل هغه څه دي چې ګوګل کمپنۍ يې توليدوي. دا عملياتي سيستم موبايلونو ته ځانګړی شوی دی او د نړۍ په ټولو موبايلونو کې له اپل کمپنۍ پرته کارول کېږي. د وروستيو معلوماتو له مخې، په نړۍ کې د ګوګل کمپنۍ تر ۱۰۰ ميليونه ډېر عملياتي سيستم لرونکي موبايلونه شته دي. ګوګل د همدې کار په موخه موټرولا کمپنۍ واخيسته څو د اندرايد عملياتي سيستم امتياز خپل کړي.
ګوګل ارت هم هغه څه دي چې ياده کمپنۍ يې پياوړې کړې ده. دا برخه د نړۍ نقشې ته ځانګړې شوې ده، کار يې د لومړي ځل لپاره په ۲۰۰۵ کال کې پيل شو، په هغه وخت کې يې له شمالي امريکا د سپوږمکۍ په مرسته انځورونه واخيستل چې وروسته يې دا کار پراخ کړ او د ټولې نړۍ انځورونه يې واخستل او يوې نقشې ته يې راواړول.
جي مېل د دې کمپنۍ بله برخه ده، چې له دې لارې هم ميليونونه ډالر ګټي. دا برخه د لومړي ځل لپاره د ۲۰۰۴ کال په اپرېل کې جوړه شوه. په ۲۰۰۷ کال کې دا برخه عامه شوه او هر چا کارولی شوی، چې وروسته يې بازار تود شو او هره مياشت ۱۴٦ ميليونو کسانو په ياده برخه کې ځان ته اکونټونه جوړول. دا برخه د ايمېل د لېږلو لپاره ځانګړې شوې برخه ده چې اوسمهال خپلو مشتريانو ته ۱۵ جي بي فضا ورکوي. يوټيوب د ګوګل کمپنۍ بله برخه ده. دا برخه لومړی چاد هرلي جوړه کړه، چې وروسته د ۲۰۰۵ کال په مې مياشت کې ګوګل کمپنۍ د ۱٦۵۰ ميليونو ډالرو په ارزښت له دوی واخيسته، دا برخه د ويډيوګانو شريکولو ته ځانګړې شوې ده. د وروستيو معلوماتو له مخې، په هره دقيقه کې د ۴۸ ساعتونو په ظرفيت ويډيوګانې يوټيوب ته پورته کېږي او په ورځ کې ۳ ميليارده کسان په يوټيوب کې د خپلې خوښې وړ ويډيوګانې ګوري.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,٤٥ |
| € | ۹۲,۸ |
| Rp. | ٤۹۲ |
| ₹ | ۱۰٦٥ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٥,۳ |

### بيړنۍ شميرې

پوليس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزير محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتيايي مرکز
166

همیانی

# سهار وختي پاڅېدل څه گټې لري او څنگه په سهار وختي پاڅېدو ځان عادت کړو؟

حميرا وردگ

هر څوک غواړي سهار وختي پاڅېږي، خو ډېری کسان ځان نه شي عادت کولی. دا کار ډېرې گټې لري او زه هم تمه لرم چې د دغه عادت د گټو په لوستو به تاسو انگېزه پيدا کړئ چې سهار وختي پاڅېږئ، ځينې گټې يې په لاندې ډول دي:

**۱-روغتيايي گټې**

سهار وختي پاڅېدل د روغ ژوند اساس دی. د انسان بدن داسې جوړ شوی چې له طبيعت سره همغږی کار کوي. دغه جوړښت ته په کتو بايد له لمر ختو سره پاڅېږو او د شپې وختي ويده شو. خو ډېری کسان داسې نه کوي. ځينې خو ان ټوله شپه ويښ او بيا تر غرمې ويده وي. دا ټول بد عادتونه دي چې روغتيا ته مو زيان رسوي. موږ بايد د خپل طبيعت مطابق مخته لاړ شو. په لومړيو کې دا کار سخت دی؛ خو کله چې ورسره عادت شو، بيا ډېر ساده کېږي.

**۲-د وخت مديريت**

که هره ورځ سهار وختي له خوبه پاڅېږو، گورو چې بېخي ښل انسان را نه جوړ شوی، پر ځان به مو باور ډېر وي او ورځ مو ښه تېرېږي. د ساعت په لومړي زنگ له خوبه پاڅېږئ، دويم ځلي يې مه برابروئ. د دغه عادت په خپلولو به وگورئ چې څومره اضافي وخت پيدا کوئ او کارونه مو څومره ښه مديريت کوئ.

**۳- له فرصتونو گټه اخيستل**

هغو گټو ته فکر وکړئ چې په سهار وختي پاڅېدو يې ترلاسه کوئ. هر څوک غواړي چې سهار دندې يا ټولگي ته د تگ پر وخت د موټرو په گڼه گوڼه کې بند نه شي، غواړي د لمر ختلو په زړه پورې منظره وگوري، د دغه وخت له ښايسته هوا او د لمر له نرمو وړانگو، چې بندن ته مو ملهم دي، خوند واخلي. دا خو يو څو بېلگې دي، ټول فرصتونه له شمېره وتلي.



**۴-هيلو ته رسېدل**

هر څوک د داسې کارونو د کولو هيلې لري چې وخت نه شي ورته پيدا کولی. که سهار وختي پاڅېږئ، دغو ټولو کارونو ته وخت پيدا کوئ. کولی شئ سپورت وکړئ، مطالعه وکړئ، ژبې زده کړئ، ليکل وکړئ او نور ډېر گټور کارونه.

**۵-سهار وختي انرژي ډېره او ذهن ارام وي**

سهار وختي چې پاڅېږئ، گورئ چې ډېر وخت لرئ. دا فکر تاسو ته انگېزه درکوي او د دې لامل کېږي چې تاسو انرژي واخلئ. برعکس، که ناوخته پاڅېږئ، وخت مو کم وي، له دې سره مو انگېزه، انرژي او تمرکز کمېږي. که فکر کوئ چې د شپې وخت لرئ، دا ښه فکر نه دی؛ د شپې لخوا په کار کولو خو يو د خپلې روغتيا دښمنان گرځئ، بل ډېر امکان لري چې له کورنۍ، خپلوانو او دوستانو سره مصروف شئ او کار مو پاتې شي.

**٦-شخصي کارونو ته وخت پيدا کوئ**

سهار وختي د هغو کارونو لپاره تر ټولو ښه وخت دی چې د کولو لپاره يې د بل چا مرستې ته اړتيا نه لرئ؛ مثلاً، د ايميل او کاري يا شخصي پيغامونو کتل، د کور منظمول، د سهارنۍ برابرول او نور ډېر کارونه. سهار وختي پاڅېږئ، مطالعه وکړئ او د امکان تر حده ټول هغه کارونه وکړئ چې پخوا به مو له دندې او ورځنيو مصروفتيونو وروسته کول. که دندې يا بل کار ته له داسې فکر سره لاړ شئ چې له بېرته راتلو وروسته د کولو لپاره ډېر کارونه لرئ، ټوله ورځ به ورخطا وئ او ډېر بد احساس به لرئ. خو که سهار د مرغانو په غږ راويښ شئ، دغه کارونه ټول خلاص کړئ، ځان ته دا موکه ورکوئ چې د ورځې له پاتې برخې خوند واخلئ.

د دې لپاره چې دغه غوره عادت خپل کړو، لاندې يې د يو څو لارو چارو يادونه کوم:

۱. د شپې وختي ويده شئ،
۲. له ويده کېدو يو ساعت شاوخوا مخکې له ټکنالوژيکي وسايلو استفاده بنده کړئ،
۳. سپين گروپ مو خوب ته نه پرېږدي، د ورځې احساس درکوي،
۴. د کافينو مصرف کم کړئ،
۵. له ويده کېدو مخکې مطالعه وکړئ،
٦. له ځان سره فکر وکړئ چې سهار وختي پاڅېدل څه گټې درته لري،
۷. هڅه وکړئ سهار وختي داسې کارونه وکړئ، چې خوند ترې اخلئ. دا مرسته درسره کوي چې وختي پاڅېدو ته انرژي پيدا کړئ.
۸. د ورځې لخوا – ماسپښين يا سهار نه، يوازې له غرمې مخکې له يوولسو تر دوولسو بجو پورې - نيم ساعت خوب کول بدل فکر نه دی، بلکې ښه دی او مرسته درسره کوي چې ذهن مو ارام شي. پيغمبر صلي الله عليه وسلم هم د دغه وخت خوب ستايلی او کړی.

دا خو ما سيند په کوزه کې را واخيست. تاسو په دې اړه نور ولولئ او تر ټولو مهمه دا چې يو ځل دا خبرې عملي کړئ، باور لرم چې ژوند به مو بدل شي.

# <u>کورنيو چارو وزارت:</u> په تېرو نږدې دوو اونيو کې د جگړې له کبله ۲۴۳ ملکيانو ته مرگ ژوبله اوښتې

کورنيو چارو وزارت وايي چې د طالبانو په بريدونو او چاودنو کې په تېرو لسو ورځو کې ٦۳ ملکيان وژل شوي او ۱۸۰ نور ټپيان شوي دي.

ياد وزارت په يوې اعلاميې کې ويلي، چې ملکي وگړو ته دغه مرگ ژوبله د هېواد په بېلابېلو سيمو کې د وسله والو طالبانو په شپږو موټر بم، ۲٦ ماين چاودنو او وسله والو بريدونو کې اوښتې ده. د وزارت د معلوماتو په اساس، په وژل شويو او ټپيانو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي.

کورنيو چارو وزارت همدارنگه زياته کړې، چې د وسله والو طالبانو په يادو موټر بم او ماين چاودنو کې د ځاني زيان ترڅنگ خلکو ته مالي زيانونه هم رسېدلي دي.



له دغه وزارت څخه په خپره شوې اعلاميه کې راغلي، چې د طالبانو د تهاجمي عملياتو په ځواب کې د يادې ډلې مهم قوماندان هم د افغان ځواکونو په بريدونو کې وژل شوي دي، خو وسله والو طالبانو په تېرو لسو ورځو کې د ملکي تلفاتو په اړه د کورنيو چارو وزارت اعلاميه رد کړې ده.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې په هېواد کې د جگړې له ډېرېدو سره هممهاله د ملکي مرگ ژوبلې شمېرې هم لوړې شوې دي. وړمه ورځ په غزني ولايت کې د سړک غاړې ماين چاودنې له امله د چارواکو په وينا، څلور ملکي وگړي ووژل شول او دوه تنه نور ټپيان شول.

دغه راز د همدې ورځې په ماښام د وردگو ولايت د سيد آباد ولسوالۍ د اوتړيو په کلي کې د هاوان مرمۍ د لگېدو له کبله د يوې کورنۍ څلور غړي ووژل شول. که څه هم حکومت د دغو بريدونو مسوول طالبان گڼي، خو طالبانو بيا دغه ادعاوې رد کړې او پر افغان ځواکونو تور پورې کوي چې د جگړې پرمهال ملکي وگړي په نښه کوي.

# <u>چين:</u> د افغان سولې د برياليتوب لپاره له نړيوالې ټولنې سره په گډه کار کوو

له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو د وتلو له اعلان له سره هممهاله چين وايي، هڅه کوي چې د دغه هېواد د سولې په بهير کې رغنده رول ولوبوي. په افغانستان کې د چين سفير وانگ يو تېره ورځ په کابل کې په يوې خبري ناسته کې ټينگار وکړ چې چين د افغانستان د سولې د بهير د تحقق لپاره له نړيوالې ټولنې سره په گډه کار کوي.

وانگ يو زياته کړه: «د افغانستان د سولې پروسه په يوه حساس او حياتي پړاو کې ده او چين د يو مسالمت اميزه افغانستان چې سوله پکې وي، ملاتړ کوي، څوک چې دايمي سولې ته د افغانستان د رسېدو لپاره زمينه برابروي، موږ د هغو ملاتړ کوو.»



افغان حکومت بيا سولې ته د رسېدو په خاطر، د ملي او سيمه‌ييزې اجماع د جوړېدو په نيت د هڅو خبرې کوي او پر دې باور دی چې د سيمې او نړۍ د هېوادونو رول د دغو مذاکراتو د گړندي کېدو لپاره تر بل هر څه مهم دی.

د ولسمشرۍ ماڼۍ مرستيال وياند لطيف محمود په دې اړه زياتوي: «د افغان حکومت اصلي هدف د جگړې پای ته رسېدل او د عادلانه او تلپاتې سولې ټينگښت دی. شپږ کلنې هڅې يې د ملي، سيمه ييزې او نړيوالې اجماع لامل شوي او سوله مو په غالب گمان په ملي، سيمه ييزې او نړيوالې هيلې بدله کړه. هيله مو د سيمې او نړۍ له هېوادونو څخه دا ده چې د سولې له بهير سره چې د ټول بشريت غوښتنه ده، همکاري وکړي.»

په ورته وخت کې د سولې او جگړې د انستيټيوټ مرستياله برېښنا ساپۍ په افغان سوله کې د چين د رول مهم او رغنده بولي. نوموړې زياتوي: «چين نن سبا په نړۍ کې لوی اقتصادي ځواک دی او له پاکستان سره يې اړيکې هم ښې دي، دا هېواد کولی شي د پاکستان له طريقه پر طالبانو فشار راولي چې د سولې د پروسې درناوی وکړي.»

دا په داسې حال کې ده چې د سولې بين الافغاني خبرو تر دې مهاله کومه مشخصه پايله نه ده لرلې او په دې مسئله کې ښکېل هېوادونه هڅې کوي چې د ملگرو ملتونو په لارښوونه، افغان حکومت او طالبان د استانبول په کنفرانس کې په خپلو کې خبره ته سره کېنوي.

مسير ورځپانه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
ايډيټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
گرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ !
وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۴۰۰ د غویي شپږمه | د ۲۰۲۱ د اپریل ۲۶مه |۷۱۳مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

دوشنبه ۱۴۰۰/۰۲/۰۶
د سهار اذان ۰۳:۳۵ د ماښام اذان ۰۶:۳۹
رمضان کریم

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۶ | ۳۳ | ۳٦ | ۳۲ | ۳۷ | ۲٤ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۸ | ۲۰ | ۲۱ | ۱۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳۵ | لمر ختل ۰۵:۱۰ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۴:۳۸ | ماښام ۰۶:۳۹ | ماخوستن ۰۸:۰۰

## نړۍ




## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر ۱۴۷میلیونه او ۱۹۲ زره او ۷۵۳ ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۴۷میلیونه او ۱۹۲ زره او ۷۵۳ کسانو ته رسېدلې دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۱۱۵زره او ۴۱۱ کسان مړه شوي او نږدې ۱۲۵ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.
د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۲میلیونه او ۷۸۹زره او ٦۵۳ ته رسېدلي او ۵۸۵ زره او ۸۸۰ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.
دغه راز هند د ۱٦ میلیونه او ۹٦۰ زره او ۱۷۲ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۴ میلیونه او ۳۰۸زره او ۲۱۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۴۷۳ زره او ۵۷۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسیه د څلور میلیونه او ۷٦۲ زره او ۵٦۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
ترکیه، بریټانیا، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: د ترکیې پوځ د عراق په شمال کې د کُردي ملېشو پر ضد پراخ پوځي عملیات پیل کړي

ترکي چاړواکو او سیمهییزو رسنیو ویلي، چې د دغه هېواد پوځ د عراق په شمال کې د کُردي ملېشو پرضد تازه پراخ پوځي عملیات پیل کړي دي.
د راپورونو له مخې، د عملیاتو پر مهال د کُردستان د منع کړای شوي کارګر ګوند (پي کې کې) پر اهدافو په سرحدي ښار حکاري کې د جنګي جیټ الوتکو او توپچي بریدونه شوي دي. د ترکیې ټلوېزیون راپور ورکړی چې د دوی ځانګړي ځواکونه، بې پیلوټه الوتکې او پوځي هلیکوپټرې د عراق په شمال کې په دغو عملیاتو کې ښکېل شوي دي. په ورته مهال د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان په یوه ویډیویي پیغام کې چې دولتي اژانس انادولو خپور کړی، ویلي، چې د دغو عملیاتو موخه د ده په خبره، د قاتلانو د ریښې وچول دي. اردوغان ویلي، ترکیه د عراق ځمکنۍ بشپړتیا ته درناوی لري، خو په خبره یې، هلته د ترهګرو پر پټنځایونو او سمڅو په بریدونو کې یو شمېر سخت دریځي له منځه تللي دي. د ترکیې پوځ تر دې وړاندې هم د عراق په شمال کې د کُردستان د کارګر ګوند پر اهدافو ورته بریدونه کړي دي. د کُردستان کارګر ګوند د ترکیې، امریکا او دغه راز اروپايي ټولنې له خوا د یوه ترهګریز سازمان په توګه پېژندل شوی دی.


## واحدیار: وزارت معارف برای جبران کمبود معلم، به ادغام مضامین درسی روی آورد



مسوولان وزارت معارف می‌گویند که روی سیستم جدید «ادغام‌سازی» مضامین مکاتب کار می کنند که با اجرای آن، مشکلات کمبود معلم رفع می‌شود.
مشرانو جرگه عطاالله واحدیار، معین تعلیم و تربیه وزارت معارف را دیروز در پیوند به کمبود معلم و کتاب درسی استجواب کرده است.
واحدیار در نشست عمومی مشرانو جرگه گفته است: «روی یک سیستم جدید ادغام‌سازی مضامین در وزارت معارف کار می‌کنیم که با تطبیق این سیستم مشکلات کمبود معلمین رفع خواهد گردید.»
به گفته عطاالله واحدیار، وزارت معارف ۹۲ درصد بودجه خود را به معلمان و کارمندانش معاش می‌دهد و با شش درصد دیگر سایر امکانات را تهیه می‌کند و به همین ترتیب دو درصد دیگر بودجه خود را هزینه لیلیه‌های مکاتب می‌کند. معین وزارت معارف وعده داده است که ظرف چند هفته آینده کتاب‌ها در مکاتب توزیع می‌شود و گفت‌وگو با کمیسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی برای استخدام معلمان حق‌الزمه جریان دارد. به گفته معین وزارت معارف، به زودی مشکل کمبود معلم و کتاب حل خواهد شد. واحدیار توضیح داده است که ۸۵ درصد کارمندان وزارت معارف بایومتریک شده‌اند و ۱۵ درصد دیگر به این دلیل بازمانده‌اند که در ولایت‌های ناامن کار می‌کنند. به گفته او، این کارمندان نیز بایومتریک خواهند شد.


## ژونـــــد

## په روژه کې د ورځې لخوا ورزش کول تاوان لري



روغتیایي کارپوهان وایي چې د روژې په میاشت کې هم باید ورزش پرې نښودل شي، بلکې په دې میاشت ورزش کول ډېرې زیاتې ګټې لري، چې د وزن د کمولو تر څنګ، د ښه طبیعت لپاره هم ګټور وي. دوی وایي چې د روژې له نیولو وروسته هم د ورځې پر مهال دې له ورزش کولو ډډه وشي، ځکه چې د روژې په نیولو سره زموږ بدن ټوله ورځ انرژۍ ته ضرورت لري څو خپل ورځني کارونه په سم ډول سرته ورسوو، نو که چېرته د ورزش پر مهال په سهار یا د ورځې په جریان کې ورزش وشي، نو د ګټې پر ځای راته زیانمن تمامېږي. له ډېرو زیاتو څېړنو وروسته څېړونکو ویلي چې د روژې په مبارکه میاشت کې د ورزش تر ټولو غوره وخت له ماښامي څخه لږ دمخه وخت دی، دوی وایي چې له روژه ماتي دېرش یا پنځه څلوېښت دقیقې دمخه په تشه ګېډه ورزش کول ډېر ګټور وي. په دې وخت کې په ورزش کولو سره پرته له ډېرې خوارۍ د بدن څلورسوه یا پنځه سوه کالوري سوځېږي.

## ال جي د خپل نوي ټلوېزیون بیه ۸۸۵۰۰ ډالره ټاکلې ده



ال جي کمپنۍ تازه اعلان وکړ چې خپل لوله کېدونکې مخپاڼه لرونکی ټلوېزیون نړیوالو بازارونو کې خرڅلاو ته وړاندې کوي. دغه ټلوېزیون له دې وړاندې د ۲۰۲۰ کال په اکتوبر کې سویلي کوریا کې خرڅلاو ته وړاندې شوی و، چې د ٦۵ انچه مخپاڼه لرونکې بنې بیه یې ۱۰۰ میلیونه کوریایي وان چې تقریباً ۸۸۵۰۰ امریکایي ډالره کېږي، ټاکل شوې وه. دغه ځانګړې ټکنالوژي لرونکی ټلوېزیون اوسمهال د ال جي نړیوالې وېبپاڼې له لارې د متحده ایالاتو، روسیې، جرمني او فرانسې په ګډون، په ۱۵ نورو هېوادونو کې خرڅلاو ته وړاندې شوی دی. دغه ټلوېزیون سیګنیچر اولېډ ار (Signature OLED R) نومېږي او تر ټولو غوره او د پام وړ ځانګړنه یې لوله کېدونکې مخپاڼه لرل دي. ال جي کمپنۍ وایي چې دغه ټلوېزیون د لوله کېدونکې مخپاڼې پر لرلو سربېره لوړ کیفیت او غوره ټکنالوژي لري. د ال جي کمپنۍ دغه ټلوېزیون د ټلوېزیونو په برخه کې یو ځانګړی نوښت بلل کېږي چې تر دې دمه د نړۍ مشهورې کمپنۍ هم د دغه ډول مخپاڼه لرونکي ټلوېزیون په جوړولو نه دي بریالۍ شوې.



عزیزي بانک
Azizi Bank
WOMEN'S
CURRENT ACCOUNT

د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب
عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې تي ام او ماستر ډبټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانیستلی شي. همدارز د میرمنو حساب له ټیټ اړتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او50 ډالرو سره پرانیستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالی چمتو کوي.
www.azizibank.af 1515